د عامي روغتيا وزارت

کندهار د عامي روغتيا رياست

ډاکتر مامون طاهري د روغتيايې علومو انستيتوت

لومړی ټولګی لومړی  سمستر

عالی نرسنګ څانګه

# طبی اخلاق

ترتیب کوونکی : استاد عبدالبصير یوسفزی

کال ــ۱۴۰۲ هـ .ش


بسم الله الرحمن الرحیم

# د درس اصلی موخې

محصلین به د درس په پای کې پدې وتوانیږي چې

طبي اخلاق وپیژني په اړه یې لازم معلومات اواصطلاحات تعریف په اړه یې لازم معلومات حاصل کړي

**ددرس حمایوي موخه :-** طبي اخلاق تعریف اوپه ورځني ژوند کې یې استفاده زده اوعملي کړی شي

# د طبي اخلاقو پيژندنه

که چيري يوطبي کارکونکی چه په کمه درجه فارغ وی اوپه طبی اخلاقو سمبال وی

دخپل ځان اوټولنی لپاره زيات ګټورثابيتيږی نسبت هغه چاته چه په لوړه درجه تحصيلات لری خوښه اخلاق نه لری

# د طبی اخلاقو پېژندنه

نوطبی اخلاق دیوطبی کارکونکی لپاره لازم اوضروری دی

نوهمداعلت دی چه

دطبابت علم په روحانی اواخلاقی اړخونوباندی تعبیر کیږی

# طبی اخلاق یا

# medical ethics

د ethics او morals اصطلاحات کله کله دیوبل پرځای استعمالیږی چه

Morals:ــ مـورال عمـومی لفـظ دی چـه عبـارت دی اخلاقـی چلنـد څخـه اویاکړنلاری ته وایی چی اکثره د سلوک یارویی په باب قضاوت ته منسوبیږی

Ethicsاصطلاح د ethikos په نوم دلاتنی کلیمی څخه اخیستل شوی چه دانسان درفتار اوعاداتو معنی ورکوی

چه دسموقاعدواواصولودحاکیمیت رامنځ ته کیدل تری مطلب دی

# دطبی اخلاقو تعریف

طبی اخلاق دسم اوناسم سلوک خیالی اوتصوری مطالعی تـه ویـل کیـږی چـه دټولو اصولو اومنل شورواجونواوقوانینو مجموعه چی یـوطبی کـارکونکی یـی مراعت کوی اودناوړه کړونوڅخه ځان وساتی

# د درس اصلی موخی

محصلین به د درس په پای کی پدی وتوانیږی چی

د نرسنگ اخلاقواودهغه د اهمیت  په اړه هراړخیز معلومات حاصل اوپه ورځنـی ژوند کی ورڅخه په ښه ډول استفاده وکړای شی

**ددرس حمایوی موخه :-** نرسنگ اخلاق وپیژنی اوپه عملی ساحه کی یی د عملی کولولاری چاری وپیژنی

# د نرسنګ اخلاق

اخلاق دتصمیم نیونی لپاره یوچوکاټ دی

که یوشخص په هرځومره سخت حالت کی وی باید داسی قضاوت وکړی چه

دده داخلاقو سره سم وی

اوداسی ونه شی چه زموږقضاوت زموږداخلاقی اصولوسره په ټکر کی راشی

اوهغه قواعد اواصول چه دیوطبی کارکونکی اوخلګو ، همکارانو اودټولوعامو

اوخاصوترمینځ دی په پام کی ونیسو ترڅوداسی وښایو چه دغه مسلک

یومیعاری اوستهندرد مسلک دی

## داخلاقو ارزښت اواهمیت

که چیری یوطبی کارکوونکی چی دپورتنیواخلاقواواوصافولرونکی وی دلاندی گټو لاس ته راوړونکی به وی

- سکون اوآرام
- دوظیفی ښه اجرآ
- دځان اومال اوعزت ساتنه
- دنفسی خواهشاتوکنترول کوونکی

- ځانګړی اوټولنیزامنیت
- درابطوځای پرځای والی
- ټولنیزه باوری
- په نوروداعتماد اوباورزیاتوالی
- ښه لارښوونی کوونکی
- دپرمختګ رامنځته کیدل

## د درس اصلی موخی

محصلین به د درس په پای کی پدی وتوانیږی چی

دنرسانو بین المللی شورایی اخلاقی قوانینو یا I N C په هکله هر اړخیز معلومات حاصل کړی

**ددرس حمایوی موخه :-** د نرسانو د بین المللی شوراپه اخلاقی قوانینوپوهیدل اوپه خپله عملی ساحه کی د هغه څخه مناسبه ګټه اخیستل

# دنرسانو بین المللی شورایی اخلاقی قوانین یا

# I N C

INC په ۱۸۹۹کال کې ددغه اخلاقی مسایلولپاره یوچوکاټ جوړکړی چه دنرسانو لپاره دغه د inc اخلاقی قانون یوبنسټیزشی دی اوبایدپرځان یی عملی کړی

ددی قانون اساسی هدف دادی چه نرسان باید دخپلی وظیفی داجراپه وخت کی ددی قانون ټول اخلاقی جوانب پرځان عملی کړی

اودهمدی قانون په عملی کولوباندی دی کولی شی چه هرساحه کی چه دامقرردی وکولای شی چه ترخوښه کلینیکی ساحه ښه تربیوی ساحه اودمدیریت داسی ساحه جوړه چه دخپلواخلاقی مسولیتونوپه سرته رسولوخلګو ته داواضح کړی چه دایومعیاری اودعدل اوانصاف مسلک دی

هرڅه په کی د اخلاقی قانون پربنادی نه دخپلوی ،انډیوالی پراساس

# نرسان خلورعمده اواساسی مسولیتونه لری

1. صحت ته پرمخ تگ ورکول
2. دناروغیو مخنوی کول
3. دناروغانودصحت تامینول
4. دغم اودرد کمول

هرنرس مجبوراومکلف دی چه پورتنی اصلونه په پام کی ونیسی اوبیدون له دی چه رنگ،عقیده،فرهنگ، جنس،ملیت،سیاست،نژاد په نظر کی ونیسی خلگوتـه په پوره ایمان داری میعاری خدمتونه سرته ورسوی

# آیانرسنگ یواخلاقی اوقانونی مسلک دی ؟

نرسینگ یقیاًداساسی اوقانونی اصولوپراساس چه په دی بحثونوکی ځای پرځای شی

دایوداسی مسلک دی چه دخپلواخلاقی اصولوپه پام کی نیولوسره خلگ دی ته مجبورکوی چه دی مسلک ته درناوی وکړی اونرسان دتاریخ په اوږدوکی کوښښ کړی دی چه ځان دیومسلک اوقانونی چوکاټ په لرلودخلگو ذهنونوکی یوداسی شخص معرفی کړی چه دایوقانونی مسلک دی

# Values

# د درس اصلی موخی

محصلین به د درس په پای کی پدی وتوانیږی چی

ارزښت او ده ارزښت په هکله داصطلاحات زده کول

**ددرس حمایوی موخه :-** د نرسنګ په مسلک کی د خپل ځان او ناروغانو

ارزښت پیژندل په اړه یی لازم پوهاوی ترلاسه کول

# ارزښت Values

ارزښت دهغه شـخص داعتقـاد څخه عبـارت دی چـه ديـوی عقيـدی داصـلاح دخلگو سره مخـامخ کيـدل عنعنـه ياهغـه موضـوعات چـه پـه نظر کـی وی پـه يوستهندرډ شکل تنظيم اوترتيب کړی

ترخودخلگو تگ لاره دتاثير لاندی راولی هغه لاره ومنی

# د ارزښتونو ځینی اصطلاحات

۱ :- ارزښتی سیستمونه :ـ

دارزښتونودپوهاوی یوه طریقه ده چه ددی له مخی ارزښت دخپل اهمیت له مخی درجه بندی کیږی

مثلاً کوم ارزښت تاسی ته ډیرداهمیت وړدی

1. تعلیم
2. دسرمایی زیاتوالی
3. دوظیفی احترام

# ارزښتونه په لاندې طریقومخ پر وړاندې ځی

## لیدنه observation

دغه طریقه کولی شوچه دمشرانو دنقش قدم په تعقیب باندې ورته انکشاف

ورکړواوهغوی دلاس ته راوړنوخخه په خپل ورځنی مسلک کی پوره گټه واخلو

# تجربه experience

موږته لازمه ده چه دنورو دتجریبو څخه ګټه واخلو اویاپخپله چه موږ کوم کارونه تجربه کړی داسی وکارو ترڅودنورواوخپلو تجربو دشریکولو څخه یوه ښه لاسته راوړنه ولروترڅونوروته زیاته ګټوره تمامه شی اونور بیازموږ دتجربوڅخه ګټه واخلی

# متقابل عمل interaction

داهغه ارزښت دی چه ستاسی څخه نورو محصیلینو ته اودهغوی څخه تاسی ته انتقال شی

په دی معنی چه تاسی څه زده کوی نوروهم په همدی شکل عمل کوی اوخپلی زده کړی ته دوام ورکوی اویاتاسی دیوناروغ سره ښه رویه کوی

نونورنرسان هم مجبوریږی چه ستاسی په شان رویه وکړی

# Modes of value transmission

## دارزښتونودانتقال لارې


ارزښتونه دژوند په اوږدوکې دنورو څخه زده کړې

چه ددې زدکړې ښې لارې

- په ټولنه کې اوسیدل
- دفامیل څخه
- په ښونځې کې دښوونکوڅخه
- دمسجد داستادانو څخه

دیوځخه بل ته انتقالول کشران همیشه کوښښ کوی چه دلویانو ارزښتونه په پام

کی ونیسی اوهغه په خپل ژوند کی عملی کړی


AMITY UNIVERSITY
AMITY UNIVERSITY, KOLKATA
learn
tests
revision
pass
study
EDUCATION
grades
exams
learning
knowledge
qualifications

# ارزښتونه په لاندی شکلوسره انتقالیږی

- **دنمونی په شکل اوسیدل Modeling**

نمونه اوسی ترخو هغه ښی لاری اونیک اعمال  چه تاسی یی لری خپل کشران

درخخه په ښه شکل زده اوپه خپل ژوندکی عملی کړی

# اخلاقي کيدل Moralizing

مور، پلار ، استاد باید خپل کشران او محصلين سمی لاري منلوته مجبورکړ اود غلطوکارونو څخه يي منع کړي

# لیبرالسم

موږمسولیت لرو چه محصیلینو ته  د چوکاټ په داخل کی اداری ورکړو ترڅو هغوی وکولای شی چه په ارزښتونو ښه پوهه اوپرځان یی عملی کړی

# دمســــــــــــــــولیتونو انتخـــــــــــــاب RESPONSIBLE

هرمحصل مجبوردی چه خپل مسولیتونه وپیژنی والدین اواستادان مسولیت لـری چه خپـل محصـیلین لـومړی پـه رضـایت اوکـه نـه وی مجبـوراً سـمی لاری تـه وهڅوی ترڅو خپل مسولیتونه پرځای کړی

# مکافات اومجازات

# REWARD AND PUNISHMEMNTE

په هره اداره کی چه مکافات اومجازات موجود وی خلگ مجبور دی چه سمه لاره اختیارکړی اوهمیشه کوښښ کوی چه ښه کارونه وکړی ترڅومکافات ترلاسه کړی اوهیڅ څوک هم نه غواړی چه دکاری کړنی نه وروسته ورته جزا ورکړی لکه

توصیه ، اخطار ،کسری معاش، اودوظیفی خخه برطرف کیدل تطبیق شی )

نوکوښښ وکړی چه تقدیری مکافات ترلاسه کړی

# طبی کارکوونکی څوک دی؟

## د درس اصلی موخی

محصلین به د درس په پای کی پدی وتوانیږی چی

طبی کارکوونکی وپیژنی

**ددرس حمایوی موخه :-** د طبی کارکوونکو په اخلاقو او اصولو پوهیدل

## طبی کارکونکی هغه شخص دی چه

دهیـواد دنافـذه قوانیینـو اومقرارتـوسره سـم یـی دمداخلودتیرولوڅخـه وروسـته دطبابت امتیاز اوتایـد لاس تـه راوړی وی چـه دغـه مرحلوتـه دطبابـت تایـد یـا Medical Approbation وایی

نوطبی کارکونکی هغه شخص دی چه نفس لری اوځـواب ورکولـو تـه مکلـف دی روح اوجسم لری چه هوساینی ته ضرورت لری دسالم عقل خاونـد وی تـر ځونارو غو خلگوته ارامتیا ورپه برخه کړی

مسلم طبیب په ځمکه کی دالله ج استازی دی په داسی حال کی چه ریښتونلی پکی موجوده وی اودخلګو سره دښیګنی صفات پکی وی او شعاریی په ځمکه کی دخلګو سره دنیکو اخلاقو پربنا دزړه داخلاصه مرسته اودپاک رب رضاوی

# دطبی کارکوونکی اخلاقی قوانین اومکلفیتونه

# د درس اصلی موخی

محصلین به د درس په پای کی پدی وتوانیږی چی

د طبی کارکوونکو اخلاقی قوانینو او مکلفیتونو په هکله لازم توضیحات زده

کړای شی

**ددرس حمایوی موخه :-** داخلاقی قوانینواو مکلفیتونو په هکله پوهیدل

# طبی کارکو ونکی لاندی مکلفیتونه لری

- تل به بی طرفه وی دخپل مسلکی قضاوت اوخپل مسلک ټول معیارات بـه په نظرکی نیسی
- دطبی قوانینو له مخی ناروغ یا ناروغه داحق لری چه ستادرملنه ومنی یایی رد کړی جبری درملنه نشته
- هیڅ یو طبی کارکونکی حق نه لری چه دناروغ په درملنه کی خپلی شخصـی گټی په نظر کی ونیسی اویا تبعضی لاره غوره کړی

- هرکله چه تاسی خپله وظیفه سرته رسوی دطبی قوانینوخیال وساتی

(ترحم ،یوبل ته احترام اوانسانی کرامت په پام کی ونیسی اواخلاقی قوانین ترپښولاندی نه کړی)

- دناروغانو اومسلکی کارکونکو سره په ډیر ترحم او اخلاص صداقت کاروکړی خیانت په خپله هم مه کوی اوبل ته یی اجازه هم مه ورکوی

- هرطبی کارکوونکی مجبور او مکلف دی چه دخپلو ناروغانو اومسلکی کارکونکو دحقه حقوقو څخه دفاع وکړی
- هغه څه تاید کړی چه تاسی پرمطمن یاست دملگرتوب په خاطر تایید مه کوی
- دروغتیا په اړه دخلگو پوهاوی لوړ کړی خطرونه ورو پیژنی اودشته وسایلو څخه کاروا خلی

- کوښښ وکړی ترڅو هغه طبی وسایل اومنافع چه تاسو ورته لاس رسی لری په قانونی شکل تری کارواخلی اوحتمی کوښښ وکړی چه هغه چاسره زیاته مرسته وکړی چه ژوند یی دمرگ دگواښ سره مخ وی که یی پیژنی هم نه کومک ورسره وکړی دا ځکه داستاسی طبی فریضه ده

- کله چه خپله ناروغ شی خپله درملنه په ښه ډول وکړی ترڅودنورودخدمت لپاره تیارشی
- هروخت چه تاسی عامه روغیتا یی خدمات وړاندی کوی تول اسلامی ،نړیوال، اوملی اخلاقی ارزښتونه په پام کی ولری اوهیڅ وخت هم دخیانت کولو کوښښ مه کوی

# دخپلوهم مسلکوپه وړاندې دیوطبی کارکوونکی مسولیت

1. دخپل هم مسلکه دومره درناوی وکړی چه څومره زیات امکان ولـری څکـه چه دبل درناوی خپل درناوی دی
2. ددی لپاره چه خلک تاسی ته ناروغان راولی دبل هم مسلکه غیبت مه کوی
3. دخپل هم مسلکه ناروغ سره هغه معلومات شریک کړی چه دناروغ په گټـه وی

# ناروغ څوک دی ؟



هغه شخص چه خپل ورځنی فعالیتونه نشی کولای اودبل مرستی ته اړتیالری ناروغ ورته ویل کیږی

یا ناروغ هغه چاته ویل کیږی چه دروحی او جسمی تکلیف له امله شپه اوورځ ناقراره اوخپل ورځنی ،تولنیز ،اواقتصادی فعالیتونه نشی ترسره کولی اودبل مرستی ته اړتیا لری

# دطبی اخلاقو بنسټونه یااساسات

# د درس اصلی موخی

محصلین به د درس په پای کی پدی وتوانیږی چی

د طبی اخلاقواساسات اوبنسټونه وپیژنی

**ددرس حمایوی موخه :-** پدی پوهیدل چی د طبی اخلاقو اساسات اوبنسټونه

د مریض او نرس سره ترکومه حده مرسته په کاری ساحه کی کولای شی

# ۱ :- خپلواکی

دناروغانو دهغه حقوقوڅخه عبارت ده چی دخپلوتہولوطبی کړنـو اوپاملرنولپـاره

پـه خپلـه تصـمیم ونیسـی  دناروغـانوازادی د دوی حـق دی مـوټرتہـول طبـی

کارکونکی پدی مجبور اومکلف یوچی کله هم یوناروغ معاینه کوو لومړی باید

دهغه څخه اجازه واخلو

که چیری هغه دمعاینی کولو اجازه راکړه دهغه وروسته معاینه او وروسته دناروغی په باره کی معلومات ورکړو

هیڅکله پرته دناروغ داجازی موږ دهغه دمعاینی حق نه لرو لومړی باید ځان معرفی کړی او وروسته دی له هغی سره مرسته وکړی

دناروغ خپلواکی ته احترام کول دطبی اخلاقو یو مهم اصل دی او ناروغ خود مختاره دی چی دخپلی درملنی لپاره طبی کارکوونکی پخپله انتخاب کړی

طبی کارکوونکی باید داسی زمینه برابره کړی ترڅو په خپل تصمیم کی خود مختاره اووسی

# ۲ :- نیکی کول
# Beneficence

ټول طبی کارکونکی په لاندی پنځه خبروباندی مسول دی

1. ضرر نه رسول اوضرر لیری کول
2. کوم کارچه کوی دهغه ګټې اوتاوان وسنجوی
3. نیکی وکړی اوناروغ ته نقصان مه رسوی
4. دناروغانو دحقوقوڅخه دفاع وکړی
5. دهغه چاسره مرسته وکړی چه ژوند یی په خطر کی وی

# ۳ :- عدالت
# Justice

په طبابت کی عدالت پر دری ډوله دی

1. **توزیعی عدالت** : یعنی سهولتونه په عدالانه ډول وویشی
2. **دحق په اساس عدالت :ـ** هغه څوک چه لومړی راغلی وی یا یی ژوند پـه خطر کی دی لمړیتوب ورکړی
3. **قانونی عدالت :ـ** څه چه موقانون کی ویلی باید هغه پرځان عملی کړو

لکه راز ساتل اویا دناروغانو محرمیت ته احترام

# د ګولبرګ داانکشافي اخلاقو نظريه

ګولبرګ چې دهاروارد پوهنتون دروانشناسی دبرخی پروفيسـور دی پـه ۱۹۷۰م کال کی يی داخلاقودپراختياپـه برخـه کـی ځينی نظريـات وړانـدی کـړل چـی عبارت دی له

# د ګولبرګ داانکشافی اخلاقو نظریه

- Pre conventional (مکافات ، مجازات )
- Conventional (ښه زوی اوسی)
- Poste conventional (وجدان ته مسول اوسی)

# د کولبرګ دااانکشافی اخلاقو نظریه

## لمړی مرحله

داخلاقی فکر هغه مرحله ده چی په عمومی شکل باید مکتب کی توضیع شی

دی مرحله کی شخص دجامعی دقبول شوو عاداتو نو سره سم رفتارکوی  او هغه

شیان په نظر کی ونیسی چه دټولنی درواج سره برابر وی

# د ګولبرګ دااانکشافی اخلاقو نظریه

## دوهمه مرحله

په دی مرحله کی باید داسی عمل وکړو چه دخلګو دخوښی وړ وګرځی اوخپل

ټول رواجونه پریږدی اودطبابت اخلاق اوقوانین په ځان ومنی

# د ګولبرګ دااانکشافی اخلاقو نظریه

## دریمه مرحله

په دی مرحله کی ګولبرګ داسی احساسوی چه اکثره خلګ دطبی اخلاقو سره اشنایی نه لری دغه مرحله دوه اړخه لری

- اجتماعی
- اوبل داچه خلګ په دی وپوهیږی چه طبی اصول دټولو په ګټه دی

که موږ طبی اخلاق په ځان کی عملی کړوپه ښه  شکل په یوه ټولنه کی مثبت بدلون راوستلی شو

په اخرو مرحلو کی موږکولی شو چه ټول جهانی اصول اواساسات په خلګوومنو او خلګ دهغی  منلو ته واکړو

# دنرسنگ اخلاقی قوانین

دنرسنگ داخلاقی قوانینو دزده کړی نه وروسته هریو باید په لاندی موضوعاتو باندی په ښه او اساسی ډول وپوهیږی

1. قسم : سوگندنامه چی په هغه کی دنرسنگ دقوانینوپه منلوتعهدکیږی
2. دنرسانو دبین المللی شوری داخلاقی قانون شرحه کول
3. اخلاقی موضو عات باید نرسانو اومریضان نو ته شرحه شی
4. داخلاقی قانون په تطبیق او کلینیکی حالاتو باندی بحث کول

# دنرسنگ اخلاقی قانون

اخلاقی قانون داخلاقی اصولو دپرنسیب دهغه مجموعی څخه عبارت دی چه په عمومی صورت ددی مسلک ټولو اعضاوپه مکمل شکل پرځان منلی دی

اخلاقی قانون هیڅ هم دخلگو اوټولنی څخه نه پټوی اوټول هغه څه لکه مسولیتونه ،جواب ورکول ، مهارتونو ښودنه ،ښه قضاوت اودخلگو ښه ملاتړکول پکی شامل دی

# دنرسنګ بین المللی ټولنی قوانین

دنرسانواساسی مسؤلیتونه څلوردی

- ❖دصحت وده اوپرمختیا
- ❖دناروغیو مخنیوی
- ❖دصحت ساتنه
- ❖دمشکلاتوکموالی

## نرسنگ ته ضرورت یونړیوال ضرورت دی چی اساس یی په لاندی ډول دی

## ژوند ته احترام

انسانی کرامت اوانسانی حقوق چی دکوم ملت ، نژاد ، ایمان ، رنګ ، عمر ، جنس، سیاست ، اجتماعی حالت پوری نه وی، محدودیږی اوټول هغه خلک چی په یوه ټولنه کی دی دمسؤلیت له مخی باید دټولوسره یوشان چلند وکړی

# داخلاقی قانون داجزاوو تطبیق
# I N C

ددی کمیټی له نظره دنرسانو لپاره داخلاقی قانون اجزا څلور دی چه په لاندی ډول یی شرح کوو

A. نرسان اوخلګ

B. نرسان اودهغوی کړنی

C. نرسان اوکارکونکی

D. نرسان اومسلک

ددی لپاره باید یوه عملی کړنلاره چه ددی کمیټې دستنډر سره سمه وی برابره اوټول هغه عملی کړی

نو په همدی بنا باید نرسان اود نرسنګ محصلین لاندی ټکی په نظر کی ونیسی

- ستنډرونه  باید دقانون له مخی مطالعه اوعملی کړی
- هرستنډرد باید دخپلی ځانګړی معنی په اساس ومنی
- دخپلو هم مسلکانو سره دی همکاره اووسی اوهمیشه دقانونی کړنو په باره کی مباحثه وکړی
- دخلګو لپاره یو مثال شی چه پرتاسی باور وکړی
- قاطع تصمیم ولری

- دنرسانو دټولنی او ټولو همکارانو سره دسټنډرډ اصولو په بنا داسلامی اخلاقی  اصولو په بنا کار وکړی

# نرسان اوخلک

دیــونرس مســؤلیت همــدادی چــی دټولوخلکومشــکلاتوته ځــان ورســوی اوټولوقوانینوته احترام اوعنعناتوته احترام ولـری اودخلکـو هغـه پـټ رازونـه چـی ددوی سره یی شریکوی د خپل قضاوت له مخی که ضرورت نه وی بایـد دهـیڅ دچا سره شریک نه کړی

# نرس اود هغی کړنی

نرس دهغوشیانوپه اساس چی دوی زده کړی دخلکوپـه وړانـدی مسؤلیت لـری ترڅودهغوی ښـه ساتنه وکـړی اونـرس مسؤلیت لـری بیـدون لـه تـبعض څخـه دخلکولاس نیوی وکړی

# نرس اوتهولنه

نـرس دټـولنی دټولووګړودصـحی اواجتماعـی کړنوپـه وړانـدی مسـؤلیت لـری ترڅودهغوی مرسته وکړی اودوی ته متوجه ستونزی شرحه کړی

# نرس اود هغوی همکاران

نرس باید دټولو همکارانوسره ښې اړیکی ولری اوټول هغه خطرونه چې ورته متوجه یی اودوی وربانـدی پوه شی ، هغه په وخت خبراودخطرڅخه یی وژوغوری

# نرس اومسلک

دادنـــرس مســـؤلیت دی چـــی خپـــل مســـلک پـــه صـــحیح شـــکل زده اودستندردونومطابق یی عملی کړی اودیومسلکی شخص په شکل عمـل وکـړی تـول اخلاقی قوانین په نظرکی ونیسی اوپه عادلانـه شـکل دخلکوژونـد وژغـوری اوټولی اجتماعی اواقتصادی ستونزوکی په عادلانه شکل دخلکوملاتړوکړی

# د نرسانو د معما ګانو سره مخامخ کیدنه

په O P D کی نرسان دډیرو نا اشنا واقعاتو سره مخامخ کیږی لکه (صحی ، اجتماعی او محیطی ) چه دی ته معماګانی وایی اوباید په ښه ډول ورته تصمیم ونیسی

# په ځينو شرايطوکی د ناروغانوسره مخامخ کيد ل

پدی حالاتوکی ددی لپاره چی ناروغ دزيات وخت لپاره په بسترکی پاتی نشی نوداسی لاری چاری پکاراچوی چی ناروغ ژرجوړ اوزيات وخت لپاره په بستر کی پاتی نشی

خوپه يادولری چی ناروغ مودخطرځخه وتلی وی اوهغه ناروغان عاجل رخصت کړی چی تاسوپدی مطمين شی

چی ددوی لپاره په کورکی سهولت زیات دی نسبت هغه مصارفوته چی په شفاخانه کی پری راځی

که چیری دناروغ وضعیت خرابوی باید په شفاخانه کی پاتی شی ځکه دهغه ژوند ته ارزښت ضروری دی .

# د ناروغانو د ساتنی اومراقبت شرایط

دمیرمنواومعیوب ناروغانوسره داسی مرسته وکړی چی په اینده کی دټولنی لپاره

پیتی نشی دمثال په ډول:-.........

## مذهبی اوفرهنگی حساسیتونه

ناروغ ناروغ دی هغه که دهر مـذهب اوعقیـدی سره تړاولـری یاستاسـوسره کومـه شخصی ستونزه ولری تاسوداسی اخلاق ورسره وکاروی چی ستاسـوداخلاقوځخه دومـره متـاثره شـی چـی خپلـی عقیـدی اوسـتونزی تـه تغیـر ورکـړی کلـه کلـه تاسودداسی حالاتوسره مخامخ کیږی چی دطبی اخلاقوسره تناقص کوی

دخپلواخلاقی اصولوپه پام نیولوسره داسی مرسته وکړی چی هغه پدی وپـوهیږی

چی دایومرسته کوونکی مسلک دی  دمثال په ډول:-.................

# د ناروغانو سره مرسته

په لاندی حالاتوکی باید له ناروغانوسره مرسته وشی ځکه په ژوندکی له گوابښ سره مخامخ کیږی

- دعامه پوهاوی کموالی
- دطبی خدمتونومحدودوالی
- دباورکموالی
- رشوت ،واسطه ، زوراوپه طبابت کی چټکی
- بی عدالتی اوتبعیض

ادامه ............

- دبی کیفیته توکواودرملواستعمالول
- دمادی گټوپه خاطر دخلکودحقونوضایع کول
- دناسمی کړنلاری غوره کول
- جنگ اوناامنی
- په یواوبل داسی تکیه کول چی له گټی څخه یی نقصان زیات وی

# مفاهمه یاپوهاوی او رضایتی

## دپوهاوی پیژندنه :-

پوهاوی دپیغام لیږدونی اوپیغام اخیستنی هغه پروسه ده چه پیغام اخیستونکی اوپیغام لیږدونکی پکی نظریات اواهداف تبادله کوی

# دمفاهمی عناصر

1. پیغام لیږونکی
2. دپیغام لپاره محیط
3. پیغام اخیستونکی
4. فیډبک یا ځواب

# دپیغام ځانګړتیاوی

1. پیغام بایدلنډ وی
2. پیغام باید واضح وی
3. پیغام بایدقبول وړوی

# د طبی کارکوونکو اړیکی د خپل ټیم د اعضاووسره

پرټولو طبی کارکونکو باندی لازمه ده چه دخپل ټیم دغړو سره په یـوه صـمیمانه فضاکی همکاری او صداقت وکړی البته په سمو اومشروع کـارونوکی ځکـه پـه ټولو هغه نیکو کارونو کی چه همکاری او صداقت وی بیا په اسـانی او ډیـر لـوړ معیار سره مخ ته ځی پس پر موږ لازمه ده چه یو دبل همکار ووسیږو

## د طبی کارکوونکو روابط د ناروغانو او دهغه د خپلوانوسره

هرطبی کارکونکی ته لازمه ده چه دخپلو ناروغانو سره داسی ښه چلند وکړی چه په راتلونکی کی بیاهم پردوی باندی باور اواعتماد وکړی اولاندی نقاط پـه نظـر کی ونیسی

1. خواخوږی
2. لطف او مهربانی (طبابت دوی برخی لری یوجسمی اوبل روحی درملنه ده)
3. رازداری privacy
4. بی طرفی impartiality

# د ناروغ حقوق

# د درس اصلی موخی

محصلین به د درس په پای کی پدی وتوانیږی چی

د ناروغ دحقوقوپه هکله معلومات حاصل اوو پیژنی

**ددرس حمایوی موخه :-** د ناروغانو حقوق لیست اوزده کول

# د ناروغ حقوق او د نرس کړنلاري

نرس مکلف دی چی هغه صحی حقونه چی یوناروغ یی په یـوطبی کـارکونکی باندی لری ورته برابر اودناروغانودژوند ژوغورنی لپاره دامکان ترحدده کوښښ وکړی

او دخپلو هغه امکاناتو څخه چی دوی یی په لاس کی لری ډیره ګټه واخلی او دنرسنګ داخلاقو مطابق عمل وکړی همدارنګه مکلف دی چی مطمین شی ناروغانو ته کافی معلومات وړاندی کړی

ادامه ..........

نرس ددی لپاره چی یو مسلکی شخص دی نو دبشری قوانینو مراعت کولو باندی مسوول گڼل کیږی او همیشه باید جواب ویونکی اوسی نـرس بایـد ښـه افهـام او تفهیم ولری او ناروغانو ته دهغوی دحقوقو مطابق داسی چلند وکړی چی نـاروغ په دی قانع شی چی دوی هم ځینی حقونه لـری چی پـه لانـدی ډول یـی شرحـه کوو

# د ناروغ حقوق

یوناروغ په یوطبی کارکوونکی باندی لاندی حقوق لری

- ناروغ ته ددرملوصحیح لاربښونه
- ناروغ ته دهغی شیانوڅخه پرهیزښودنه کوم چی ناروغ ته ضرررسوی
- دومره فیس دناروغ څخه واخلی  څومره موچی حق کیږی
- دناروغانوسره دتبعیض څخه پرته چلند وکړی

ادامه ........

- ناروغ پرمونږحق لری چی زهری درمل ورنه کړو
- دناروغانوسره دښواخلاقوچلندوکړی
- دناروغانوعزت ،اوعفت ساتل پرمونږباندی دهغوی حق دی
- دناروغانورازساتل پرمونږباندی دهغوی فرض حق دی
- هغه ناروغان چی معیوبین دی دهغوی پرمونږحق دی چی مراقبت یی وکړو

## ټول نرسان اوطبی پرسونل لاند ی اصول باید په نظرکی ونیسی

- ټول ناروغان بیدون لدی چی عمر، جنس ، نژاد ، کلتور ، روانی حالت تـه یـی وکتل شی باید خبروته یی احترام وشی
- هرکله چـی یونـاروغ معاینـه کیږی پـدی وخـت کـی یـی خپلـوان اودوسـتان موجودوی
- هرکله چی ناورغ معاینه کوی ناروغ بایدپه دغه پروسیجر باندی پوه شی

ادامه .......

- کله کله ناروغ په خپله غواړی چی ځینی معاینات پرداسی حال کی اجراشی چی هیڅوک ددوی دواړوپه منځ کی نه وی نو لومړی باید ترینه لیکی سندواخیستل شی اوبیامعاینه شی

- ناورغ بایددیته وهڅول شی چی هرکارستاپه ګټه اجراکیږی اوکه اجرانه شی تاته نقصان دی

❖تـول هغـه فرهنگونـه پـه کـاروانچوی ترڅودناروغانواومسـلکی خلکـوترمنځ

روابط په پام کی ونیول شی اوصحی مراقبتونه په ښه طریقه سره اجراشی

# د ناروغانو په پاملرنه کی قضایی موضوعات

# د درس اصلی موخی

محصلین به د درس په پای کی پدی وتوانیږی چی

د ناروغانوپه پاملرنه کی قضایی موضوعات زده کړای شی

**ددرس حمایوی موخه :-** هغه جرمونه اوسزاگانی پیژندل چی په واسطه یی یونرس مجرم کیږی

# د ناروغانو په پاملرنه کی قضایی موضوعات

په ولادی نسایی کی دناروغ پاملرنه اوځینی قضایی موضوعات پـه ولادی نسـایی کی ټول طبی پرسونل بایدناروغانودرازساتنی په هکله ډیراحتیـاط وکـړی ځکـه چی دامسله ډیره زیاته داهمیت وړده

داپه دی معنی ده چی کله یـوه ناروغـه دداسـی سـتونزی سره مخـامخ وی اونـه غواړی چی راز یی افشاء شی نودغه رازپه طبی کارکوونکو باندی ددی نـاروغ امانت دی اوداامانت خیانت کول په اسلام کی داسلامی اصولوسره پـه تکرکـی دی

ادامه .....

رسول الله (ص) دمنافق دریوعلاموته اشاره کړی ده

- چی ډیری خبری کوی ، دروغ وایی
- چی جنګ کوی ښکنځل کوی
- کله چی امانت وکړل شی په هغه کی خیانت کوی

ادامه ........

خوځینی رازونه داسی هم دی چی دټولنی دخرابوالی سبب کیږی نوکـه داسـی ا عمال موولیدل نوتاسوحق لری چی قضایی اوعدالی مقاماتوته خبر ورکړی

- یوښځه غواړی په قصدی شکل خپل ماشوم سقط کړی
- یوه ښځه په داسی ناورغی اخته وی چی هغه ټولنی لپاره نقصان رسوی لکه ایډز

# د کوچینیانو حالت ته پاملرنه

دمعاینی اودرملنی په وخت کـی دکوچنیـانوویرول یوغیرمجازکـاردی . دضرورت په وخت کی ناروغ داسی تنبه کړی چی تنبی په اینده کی دناروغ لپـاره یوسـتونزه پاتی نشی لکه یوناروغ ماشوم چی کله کله په چپرکت کـی بـولی کـوی داماشـوم حق لری چی داراز یی افشاء نشی ځکه کیـدای شـی چـی ماشـوم دعصـبی پلـوه دستونزی سره مخامخ شی

اویاکله کله ماشومان دطبی کارکوونکوخخه ویـرول کیـږی چـی داکیـدای شـی طبی کارکوونکوو اوماشومانوترمنځ فاصله پیداکوی

دناروغ ماشوم سره په مهربانی چلند کول پرمونږباندی ددوی حق دی

ادامه .........

ځکه چې دافغانستان دجزاء دقانون ۴۴۵ماده کې داسې راغلي دي

هر څوک چې پخپله وظيفه ،کسب ،صنعت فن،علم کې دخلکو په اسرارو خبر شي او دهغوی پټ رازونه بغير دکوم قانوني عذر څخه افشاء کړي او يا يې پخپله يا دبل په نفعه وکاروي په منځيني حبس چې له دوه کالو څخه کم نه وي محکوم يا په نقدي جزاء چې د ۲۴۰۰۰زره افغاني ده محکوم کيږي

# د طبی اخلاقو د مقرراتو اونظم خلاف اعمال

طبی کارکوونکی داسی ډیراعمال اجرا کوی چی دطبی اخلاقو او قوانینو له نظره جرم گنل کیږی او عاملین یی باید مجازات شی چی ددی اعمالو یو څو نمـونی په لاندی ډول ذکر کوو

- دخپلی سوی او طبی امتیازاتو څخه بده ګټه اخیستنه لکه

1. په بی قانونه توګه دیو ماشوم سقط کول

2. دمخدره دوګانو نامناسب استعمال

- دناروغ داعتماد او مناسبت شخه بدی گتی اخیستنی لکه

1. دناروغ یا دهغی دپایواز سره نامشروع جنسی مناسبت جوړول
2. دطبی راز افشا کول

- هغه اعمال کلیمات او حرکات اجراء کول چی دطبی کارکوونکی اعتبار او اعتماد دمنځه وړی لکه غلا او تقلب

- دغلطو تصدیقو جوړول

- مادیاتو دلاس ته راوړلو لپاره دغلطو طریقو څخه ګته اخیستنه لکه

1. دمریض لوټول
2. دنورو طبی کارکوونکو بدنامول
3. دبل ناروغ معاینه کول
4. دلابراتوار او دواخانو څخه سهم اخیستل

- دناروغ سره دمرستی کولو شخه انکار کول په داسی حال کی چی ناروغ دیوی ستونزی سره مخامخ وی هیڅ ثوک دا حق نه لری چی ددی ستونزمن شخه خپله مرسته وسپموی

**داځکه چی د عامی روغتیا دقانون یوولسمه ماده کی داسی راغلی دی :**

ټول طبی پرسونل په دی مجبور او مکلف دی چی په لاړو اجتماعـی ځـایونو او په کورونو کی خلکو ته عاجل طبی خدمات وړاندی کړی او دیـو معقـول عـذر دنه موجودیت په صورت کی انکـارکوونکی دجـزا دقـانون ۳۵۴مـادی دجزایـی حکم په اساس چی لاندی ذکر کیږی محکوم کیږی

# دجزاء دقانون ۳۵۴ماده

هر هغه څوک چی اور لگیدنی او یا بلی حادثی په وخت کی دمعقول عذر څخه پرته داړو خلکو سره مرسته ونه کړی په داسی حبس محکوم دی چی له شپږو میاشتوزیات نه وی او یا هم نقدی جریمه چی له شپږو زرو افغانیو څخه زیاتی نه وی او یا یو له دی جزا څخه په یوه یی محکوم شیمرل کیږی

# د طبی اخلاقو ، مقرراتواو نظم  خلاف اعمال

طبی کارکونکی داسی ډیر اعمال اجراکوی چه دطبی اخلاقو اوقوانینو له نظره جرم دی چی بیلگی یی دادی

- دخپلی سوی اوطبی امتیازاتو څخه بده گټه اخیستنه

(غیری قانونی سقط او مخدره موادواستعمال )

- دناروغ داعتماد اومناسبت څخه بده ګټه اخیستنه
- هغه اعمال کلیمات اوحرکات اجراکول چه دطبی کارکونکی اعتباراواعتماد دمنځه وړی لکه غلا اوتقلب
- دغلطوتصدیقونوجوړول
- دمادیاتودلاس ته راوړولو لپاره دغلطو طریقوڅخه ګټه اخیستنه
- دناروغ سره دمرستی څخه انکار کول

ادامه .........

**داځکه چه دعامی روغتیا دقانون یوولسمه ماده کی داسی راځی :**

ټول طبی پرسونل په دی مجبور اومکلف دی چه په لارو اجتماعـی ځایونواوپـه کورونوکی خلگو ته عاجل طبی خدمات وړانـدی کـړی اودیومعقـول عـذر دنـه موجودیت په صورت کی انکارکونکی دجزا دقانون د ۳۵۴ مادی دجزایی حکم په اساس چه دشپږ میاشتی حبس اویانقدی ۶۰۰۰ افغانی جریمه دی

# غیری قانونی سقط
# illegal abortion

سقط دپوره مودی مخکی دماشوم ضایع کول عبارت دی دسقط ثخه

## د سقط ډولونه

1. طبعی سقط
2. تصادفی سقط
3. معالجوی سقط
4. جرمی یاجنایی سقط

# د سقط د صورت نیولوشرایط

هغه شرایط او اهتمامات چی سقط باید پکی صورت ونیسی په لاندی ډول دی

1. هغه حمل چی سقط کیږی دلایل یی دری مستندو داکترانو تصدیق کړی وی
2. دعامی روغتیا صلاحیت لرونکی هیت څخه باید اجازه واخستل شی

۳ :- حمل باید دلومړیو دری میاشتو څخه سقط شی په داسی حال کی چی اجازه ورته وشی

✓کله چی سقط دپورتنیو شرایطو په تکمیل سره صورت ونیسی باید په روغتون کی صورت ونیسی

# د حمل د لیری کولو دلیلونه

په لاندی حالاتو کی یوه ښځه غواړی چی خپل ماشوم دځان څخه لیری کړی

- کله چی دماشوم ژوند دمور ژوند دمرگ دگواښ سره مخ کړی لکه ایکلامپسا
- کله کله په Aultra Soundکی معلومه شی چی ماشوم ناقص دی بیا یی سقط ضروری دی خو دیوه مستند منبع څخه به احکام اخلی

- کله کله دجنسی تیری له کبله رامنځته شوی وی
- داقتصادی ستونزو له کبله غواړی چی ماشوم سقط کړی
- کله کله کورنی تاوتریخوالی ددی سبب کیږی چی مور سقط ته مجبوریږی

# د جزا د قانوون ۴۰۴ ماده

هر هغه څوک چی دحامله ښځی جنین دضربی او یا هر نوعی زور په واسطه وغورځوی یا سقط کړی په ۷۰ ورخی حبس محکوم گرځی

## په ۴۰۳ ماده کی داسی راغلی دی :

هرهغه چی دواده دورکړی په اثر په داسی حال کی چی دښځی خوښه او رضا پکی موجوده وی په متوسط حبس یا نقدی جزا چی د ۱۲۰۰۰افغانی څخه کم نه وی او د ۶۰۰۰۰افغانیو څخه زیاتی نه وی محکومیږی

ادامه ...

هر هغه څوک چې په سهوأ شکل داسې دوا یو ښځې ته ورکړی چې دهغه حمل ساقط کړی په لنډ حبس او یا نقدی جریمه چې دولس زره افغانی کیږی محکوم ګڼل کیږی

که چیرته پورته ذکر شوی کسان داکتر ،نرس، قابله ،او دواساز چې هدف یې د موردژوند ژغورل وو لومړی باید ورته جواز واخلی او بیا حمل ته سقط ورکړی

په داسی حال کی چی اجازه ورته وشی

ادامه ...

ټول هغه خلک چې په غیر قانوني شکل دطبې قوانینو خلاف ورزي وکړي او یا د خپل موقف څخه بده ګټه پورته کړي خلک زور زیاتي ته مجبور کړي او یا دخپل مقام ساتلو لپاره آمر ته پیسي ورکړي او یا آمر دخپل موقف څخه بده استفاده وکړي خپل مادونان حتی جنسي زور زیاتي ته مجبور کړي

نو دا جزا دقانون ۳۱۲ماده کی راغلی دی چی پورته اشخاص باید په متوسط حبس او یا ۱۲۰۰۰افغانیو څخه نیولی تر ۶۰۰۰۰افغانیو پوری په نقدی جریمه محکوم کیږی

# تمت باالخیر